**بسم الله الرحمن الرحيم**

**امریکا غواړي هند پر یوه متجاوز دولت بدل کړي؛ نو مسلمان پوځونه باید د خلافت تاسیس ونه ځنډوي**

(ژباړه)

بایډن امریکا ته د هند د لومړي وزیر تر رسمي سفر وړاندې د هند د متجاوز کولو جوړښت تایید کړ- د ۲۰۲۳م کال د جون په ۲۲مه امریکا ته د هند د لومړي وزیر په سفر کې هغه ته په کانګرېس کې د خبرو فرصت ورکړل شو؛ دا فرصت یوازې ډېرو نیږدې متحدینو ته ورکول کېږي. د ۲۰۲۳م کال د جون په ۵مه د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ویاند وویل: «له هند سره زموږ ملګرتیا له هغو ملګرتیاوو ده چې ډېرې پایلې لري». په همدغه ورځ د امریکا دفاع وزارت وویل: «د امریکا دفاع وزیر، درېیم لویډ جي آسټین د جون له ۴مې تر ۵مې هند ته سفر وکړ چې اصلي دفاعي مشارکت پیاوړی کړي او واشنګټن ته د هند د لومړي وزیر تر سفر وړاندې په مهمو برخو کې همکاري پیاوړې کړي. دفاع وزیر د هند د ملي امنیت له سلاکار، اجیت دوال او د دغه هېواد له دفاع وزیر، راجنات سینګ سره وکتل.»

امریکا له چین او مسلمانانو سره د مقابلې لپاره هند پر یوه متجاوز دولت بدلوي. په ورته وخت کې امریکا له پاکستان سره له خپلې ملګرتیا د دې لپاره ګټه اخلي چې د هند د راپورته کېدو پر وړاندې خنډ نه شي. کله چې هند په زور کشمیر د ځان برخه کړ، امریکا د پاکستان حکامو ته امر وکړ چې څه اقدام ونه کړي او د اوربند تړون لاسلیک کړي. کله چې هند له چین سره پر ګډه پوله ښکېلېږي، امریکا د پاکستاني حکامو مخه نیسي چې له فرصته ګټه وا نه خلي او په دویمه جبهه کې د هند پر وړاندې د اشغال شوي کشمیر ازادولو لپاره کوم ګام پورته نه کړي.

هر یوه مسلمان پوځي پوهېږي چې هند د راپورته کېدو او پاکستان د کمزوري کېدو په حال کې دی؛ دا د سختې نهیلۍ سبب کېږي. په حقیقت کې دغه نهیلي د هغو کسانو لپاره حتمي ده چې ځان د امریکا له اتحاد او ملګرتیا بهر نه شي لیدلی. پاکستان چې څومره امریکا ته نیږدې وي؛ هومره کمزوری کېږي. د نهیلۍ دغه وضعیت مسلمان افسران اړباسي چې د یوازیني بدیل لپاره هڅه وکړي؛ دغه بدیل اسلام او اسلامي خلافت دی.

د نبوت پر منهج خلافت به له استعمارګرو دولتونو سره ټول زیان‌راوړونکي ایتلافونه له منځه یوسي. خلافت به پنځه پنځوس اسلامي هېوادونه چې اوس د دولت-ملت په بڼه دي؛ د یوه خلافت دولت تر سیوري لاندې سره یوځای کړي. خلافت به د راشده خلافت پشان کار وکړي؛ اسلام به نوو هېوادونو ته یوسي او دښمنان به شاتګ ته اړ باسي.

**اې مسلمانو پوځي افسرانو!** په دې کې هېڅ شک نشته چې خلافت د وخت اړتیا ده. اوس هم ناوخته نه دی چې د خپلو دښمنانو د مخته تګ مخه ونیسو! په ورته وخت کې دا یوه اسلامي فریضه ده. د خلافت په فریضه کې هر ډول سستي کبیره ګناه ګڼل کېږي. پر دې سربېره، ستاسو دنده او مسولیت تر عامو مسلمانانو زیات دی. ملکي او عام مسلمانان باید د خلافت لپاره کار او دعوت وکړي؛ خو که هر څومره هڅه هم وکړي، یوازې یې غوښتنه کولی شي؛ عملاً خلافت نه شي تاسیسولی. خو تاسو جنګي خلک د انصارو رضي الله عنهم پشان یئ! ستاسو دنده دا ده چې عملاً فزیکي او مادي مرسته وکړئ او نصرت ورکړئ چې خلافت تاسیس شي! لکه انصارو رضي الله عنهم چې نصرت ورکړ او په مدینه منوره کې اسلامي دولت تاسیس شو.

دلته مسلمان افسر دا پلمه او عذر نه شي وړاندې کولی چې د پوځي او سياسي رهبرۍ پر اطاعت مکلف دی. دغه عذر د قيامت په ورځ هم نه منل کېږي! دغه عذر او پلمه هغه د دوزخ له اور څخه نه شي ژغورلی. مسلمان افسران د دغې پلمې تر شا نه شي پټېدلی؛ ځکه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:

**«لا طَاعَةَ فِی مَعْصِيَةِ اللَّه إِنَّمَا الطَّاعَةُ فِی الْمَعْرُوفِ»**

ژباړه: «د الله سبحانه و تعالی په نافرمانۍ کې د امير اطاعت نه شته؛ بلکې اطاعت يوازې په معروف کې دی.» (بخاري او مسلم)

په حقيقت کې؛ چېرته چې د انسانانو د خالق، الله سبحانه و تعالی امر وي او نافرماني يې کېږي؛ د هېچا يا هېڅ ډلې اطاعت نشته. دلته هم مسلمان افسران دا ادعا نه شي کولی چې دا يې شخصي مسؤليت نه دی! دا پلمه نه شي کولی چې نور څه نه کوي نو زه هم د څه کولو ته اړ نه يم. دا پلمه هم نه شي کولی چې کله نورو کار پيل کړ زه به يې هم وکړم. هر مسلمان افسر د اسلام وفادار ساتونکی دی. رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمايي:

**«أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِلَيْلَةٍ أَفْضَلَ مِنْ لَيْلَةِ الْقَدْرِ- حارِسٌ حَرَسَ فِی أَرْضِ خَوفٍ لَعَلَهُ لَا يَرجِعُ إلَی أَهْلِهِ»** (حاکم)

ژباړه: «تاسو ته د قدر له شپې غوره شپه ونه ښيم؟ دا هغه شپه ده چې يو ساتونکی د جګړې د سيمې ساتنه کوي او باوري نه دی چې بېرته کور ته ځي که نه.» (حاکم)

اما اوزاعي رحمةالله عليه فرمايي: «كان يقال ما من مسلم إلا وهو قائم على ثغرة من ثغر الإسلام، فمن استطاع ألا يؤتى الإسلام من ثغرته فليفعل» يعنې «وويل شول چې هېڅ مسلمان نشته مګر دا چې د اسلام په پولو کې ولاړ وي؛ نو هر څوک چې غواړي د اسلام د کمزوري کېدو يا پر اسلام د بريد مخه ونيسي، بايد دا کار وکړي.» نو کله چې مسلمان افسر ويني چې اسلام ته د اوښتونکي زيان مخه نيولی شي، لاس په کار کېږي. که اړ شي د دښمن د مخته تګ پر وړاندې په يوازې ځان دربېږي. که مناسب کسان پيدا کړي، نور د دغه کار لپاره ګوماري. څه چې ورسره وي، اخلي يې او پر الله په توکل سره اقدام کوي! خپله ټوله هڅه کوي چې له کومې ملامتۍ او پلمې پرته يې له رب سره د هغه د رحمت لپاره وګوري!

البته مسلمان افسر دا ادعا نه شي کولی چې عمل کول يې له وسه نه دي پوره ځکه ښايي مال او ځان ته يې زيان ورسېږي؛ ځکه چې د خلافت تاسيس د مرګ او ژوند مسله ده. دغه مسله قرباني غواړي؛ هغه قرباني چې مسلمان پوځي افسر يې په خپل مناسب ځای کې کوي. رسول الله صلي الله عليه وسلم خبرداری ورکړی چې:

**«إِذَا تَبَايَعْتُمْ بِالْعِينَةِ، وَ أَخَذْتُمْ أَذْنَابَ الْبَقَرِ، وَ رَضِيتُمْ بِالزَّرْعِ، وَتَرَكتُمُالجِهَاد، سَلَّطَاللَّهُ عَلَيْكُمْ ذُلًّا لَا يَنْزِعُهُ حَتَّى تَرْجِعُوا إِلَى دِينِكُمْ»**(ابن تيميه ابو داود)

ژباړه: «کله چې په راکړه ورکړه او سوداګرۍ بوخت شئ؛ د خپلو غواګانو لکۍ ونيسئ (په چوپانۍ بوخت شئ)، يا په خپل زراعت او کرکيله راضي شئ؛ په داسې حال کې چې جهاد مو پرېښی وي. نو الله به پر تاسو خواري او ذلت مسلط کړي او دا تر هغه له منځه نه ځي چې څو بېرته خپل دين ته راونه ګرځئ.» (ابن تيميه ابو داود)

نو مسلمان پوځي افسر پیاوړی او جنګیالی زړه لري. د هغه کمزوري انسان زړه ورسره نشته چې په دنیا پورې تړلی. تل په داسې فرصتونو پسې وي چې قرباني ورکړي. له راحتی، هوساینې، د دنیا مال او شتمنی سره یې نه ده جوړه. هره ورځ یې ځان له پروردګار سره لیدو ته تیاروي؛ که څه هم له دښمن سره د مخ کېدو غوښتنه نه کوي خو د شهادت لپاره له زړه او په اخلاص دعا کوي! دغه ډول جنګیالي د ځان په رهبری دغه بدلون راولي. که څوک داسې نه وي، نو د دې کار تمه نه ترې کېږي.

**اې د پاکستان وسله‌والو ځواکونو!** لا هم ناوخته نه دی؛ د کفارو له ملګرتیا لاس واخلئ! اسلام پلی کړی او د الله سبحانه و تعالی په لار کې جهاد وکړئ! همدا اوس حزب التحریر ته نصرت ورکړئ چې د ریښتینې بدلون لپاره پلان جوړ کړئ او اقدام وکړئ!

**لیکوال: مصعب عمیر – ولایه پاکستان**

**۱۴۴۴هـ.ق کال د ذولحجې ۱۰مه**

**۲۰۲۳م کال د جون ۲۸مه**